# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان


## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

شاعر: زنده یاد سیدال سخندان
مرسل: پیشگام
۰۹ جولای ۲۰۲۴


زنده یاد سیدال سخندان

# کارگر ته

په پلاس او په انبور دي استثمار پاره پاره کړه

شابه شابه ای کارگره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه

مال دي هسي مفت خواران خوري، چي په سر باندي بند نشی

د هدف په لوري درومه، څو په وینو لژند نشی

ورک له خپله چاپیریاله طفیلي او بېکاره کړه

شابه شابه ای کارگره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه

دا خوږي غوږي وعدي چي ارتجاع درکوي تا ته

پام کړه، پام کړه غلط نشی کوپړی یي کړه ورماته

ته زمری یي، څیري دا گیدړه مکاره کړه

شابه شابه ای کارگره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه

په زحمت او زیار له ځمکي راوکاږي سره لعلونه

ستا د مټ په قوت مست دي، ښاماران کوي عیشونه

پټک راواخله نن دي وار دی، ښاماران تري اواره کړه

شابه شابه ای کارگره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه

ستا قوت د شڼ هاتي دی، پاڅه ماته پنجره کړه

دا ملي خائینان واړه په خپل حکم غرغره کړه

له فاسدو سرو جوړه په ډگر کي مناره کړه

شابه شابه ای کارگره خپل ایمان غیرت ښکاره کړه

پاڅه پاڅه ولې ناشته يې؟ ځان ته نوی ژوندون جوړ کړه
د کلو وړی شاهين، د دښنه په غوښو موړ کړه
مست سېلاب شه انقلاب شه ارتجاع په تراره کړه
شابه شابه ای کارګره خپل ايمان غيرت ښکاره کړه

ناشته:زړخوړی
دښن: دښمن
اواره: در په در